مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد ابراهیم سپیخلی ۲۰۲۲/۰۹/۱۱

# یاره کندهاریانو خدای نازولي یاست!

## د استاد سعدالدین شپون د پنځم تلین

د استاد شپون له نوم سره په تنکی ځوانی کي د امریکا ږغ راډیو له لاري اشنا سوم،
د خبرو انداز یې زما پر غوږونو ښه لګیدی. د« شین ټاغي» لوستلو نور د استاد لیدولو او دده کتابونو لوستلو ته لېوال کړم.
د « شین ټاغي» له لوستلو وروسته مي یو لیک په هغه ادرس ورته ولیکه، چي په کتاب کي خپور سوی، خو تر پایه مي د لیک جواب ترلاسه نه کړ .
له اوږد مهاجرت وروسته خپل هیواد ته ستانه سولو، انټرنیټ او فېسبوک راپیدا سول، له استاد سره د لیونی مینې پر بنسټ مي په فېسبوک کي ملګری سو.
که هره ورځ نه وه، نو په اوونی کي مي خامخا یو واري له شپون صاحب سره پر مسنجر ښه سم مجلس کاوه.
په کندهارکي د عبدالله محزن دیواني شاعر په اړه جوړ سوي سیمینار ته یې له نورو پوهانو سره تشریف راوړی ؤ، په لیدولو او مجلس یې نور هم له استاد سره زما ملګرتوب ټینګ کړ.
مرحوم شپون نه یوازي په لیکنو او راډیو کي ځانګړی انداز درلود، بلکي پر سټیج او عام مجلس یې هم ډېره توجه جلبوله.
ځیني وخت به یې پر فېسبوکي میسنجر په خپل خدای ورکړي انداز راته ویل: «یاره کندهاریانو خدای نازولي یاست ، احمدشاه بابا، میرویس نیکه، .... حبیبي صاحب، جهاني صاحب او... ټول ستاسو دي .»
ما به په ځواب کي ورته ویل:« استاده! دا لوی خلک دي او لوی خلک په یوې سیمي پوري نه محدودیږي، دوی د ټول افغانستان او سیمي په کچه پېژندل سوي شخصیتونه دي .»
یادونه: د استاد سعدالدین شپون د پنځم تلین په مناسبت


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ